محب الله زهیر

۲۰۱۳/۰۱/۲۰

# طالبان دی توری عینکی لیری کړی

په پاکستان کی د طالبانو د رژیم سفیر ملا عبدالسلام ضعیف د سولی د خبرو په تړاو یوه لیکنه کړیده چی په لوستلو سره یی اړ شوم یو څه ولیکم .

طالبان همیشه د ملت په وړاندی خپل اهداف او تګلاره نه څرګندوی. دوی د ۲۱ می پیری په زمانه کی لا اوس هم د خپل وروسته پاتی ذهنیت په تورو عینکو کی هرڅه وینی. ملا عبدالسلام ضعیف چی لیکنه یی د پاریس دغونډی پر محور راڅرخیدله داسی کومه د امیدواری وړاندیز د طالبانو له اړخه ندی وړاندی کړی او داسی برېښی چی د طالبانو دریځ منطقی دی او دولت باید ځان د هغی سره عیار کړی. دلته ملا صاحب باید خبره په ډاګه وکړی.

لومړی داچی هغه د طالبانو له اړخه دا ویلی دی چی دهیواد اساسی قانون ته دی تغییر ورکړل شی. دا باید پټه ونه ساتل شی او باید روښانه شی چی تاسی د اساسی قانون په کومو موادو باندی اعتراض لری؟ په اساسی قانون کی د حکومت - اتباعو د حقوقو او وجایبو- د رئیس جمهور د ټاکلو ډول او واکونه – حکومت – ملی شورا – لویه جرګه – قضا او داسی نورو مهمو مسایلو ته ځای ورکړل شویدی.
زه فکر کوم چی طالبان ډیری مخالفت چی لری هغه د اتباعو د حقوقو په هکله لری په خاصه توګه دوه ویشتمه ماده چی د ټولنی نارینه او ښځینه و ته یی برابر حقوق ورکړیدی. پوښتنه دا ده چی:

- آیا طالبان د ښځو سره د نارینه و په نسبت تو پیری چلند غوره ګڼی؟
- آیا ښځی د تعلیم، تحصیل او کار حق نلری چی په ټولنه کی ځانته د شخصیت خاوندانی وی؟

بله موضوع چی په اساسی قانون کی مطرح ده هغه د جمهور رئیس ټاکنه ده چی د اساسی قانون د ۶۱ می مادی له مخی د خلکو د عمومی، سری او مستقیمی رای اچونی په اساس د ۵ کلونو لپاره ټاکل کیږی. البته یو تن کولای شی یوازی د دوه پړاوونو لپاره ځان کاندید کړی. او وروسته د هر ۵ کلونو به بیا ټاکنی کیږی چی بی له کودتا، بی له وینی تویونی او ټوپک ته د لاس اچونی، بیا ځلی خلک خپل مشر د ۵ کلونو لپاره وټاکی. په اساسی قانون کی دا دوه ډیری مهمی مسئلی دی چی خلکو ته خورا ارزښت لری او په هیڅ قیمت نه غواړی دا لاسته راوړنی له لاسه ورکړی او بیا د استبدادی رژیمونو په لومه کی ولویږی. ټوله دنیا شاهده ده چی د همداسی آزادیو او حقوقو دلاسته راوړلو لپاره په عربی ځینو هیوادونو کی خلک مبارزه کوی او خپلی وینی تویوی ترڅو د استبدادی نظامونو څخه هیواد وژغوری او خپلو موخو ته هم رسیدلی دی یا به ورسیږی.
زه خبری ډیری نه اوږدومه، طالبان د اسلامی شریعت او قانون څخه خبری کوی خو داخبره هم تفصیل ته اړتیا لری. د طالبانو شریعت هم خلکو لیدلی دی او د کوم شریعت څخه چی دوی خبری کوی د هغی پایله بیا هم هماغه د لاسونو پری کول، په کیبل وهل او په څلور لارو کی خلک سنګسارول . . . دی په داسی حال کی چی په اوسنی متمدنه نړی کی اوس داسی جزاګانی په وضعی قوانینو کی نه دی ځای پر ځای شوی او تر څو چی دا مواد په قوانینو کی ځای پر ځای نشی تطبیقی جنبه نشی غوره کولای. بله دا چی دا جزا ګانی د اسلام د مقدس دین د ذاتیاتو څخه هم نه شمیرل کیږی.
شاه ولی الله دهلوی وایی چی دا ډول جزا ګانی د اسلام د دین له ظهور څخه د مخه په اعرابو کی موجودی وی. د مثال په ډول د اسلام نه د مخه چی مکه یو تجارتی ښار وو او د تجارانو قافلی به چی کله د نورو سیمو نه مکی ته راتلی نو ځینو به په لاره کی دی قافلو ته کمین نیوه او هغه به یی لوټلی چی دی وضعیت د مکی تجارتی غوړاوی ته تاوان رساوه نو ځکه بیا د مکی مشرانو فیصله وکړه چی که هر څوک په دی عمل ونیول شو لاس باید ورڅخه پری شی.
وروسته چی کله د اسلام دین راغی نو اکثر هغه څه چی په هغه وخت کی رواج درلود هغه یی په خپل حالت پریښود لکه د مریانو یا غلامانو ساتل یی بل مثال دی چی داسلام دین هغه محکوم نه کړ بلکی په هغه شرایطو کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

چی په ټوله نړی کی دا نظام موجود وو نو هیڅ چا دا جرئت نشو کولای چی په یوه سیمه کی د داسی نظام په وړاندی ودریږی.
د اسلام دین یوازی دا وکړل چی وبی ویل چی د غلامانو سره د ترحم نه کار واخلی. بله دا چی دا هم د مسلمانانو لپاره مجبوری وه ځکه چی په جګړه کی به چی مقابل لوری د مسلمانانو څخه څوک اسیر ونیو نو دغلامانو چلند به یی ورسره کاوه نو ځکه مسلمانانو به هم د خپلو اسیرانو د خلاصون لپاره دمقابل لوری څخه افراد دغلام په بڼه نیول او بیا به یی تبادله کول.
زه یوه خبره په زغرده کوم چی په اوسنیو شرایطو کی د طالبانو جنګ او د مذاکراتو منطق کمزوری دی. دوی باید د خلکو ارادی ته غاړه کیږدی نه دا چی خپل نظر د زور له لاری پر خلکو تپل وغواړی. اکثر طالبان او دهغوی هم فکری کسان یو استدلال کوی چی مونږ په افغانستان کی د شریعت پلی کول او د اسلامی قانون نافذول غواړو او د دی هدف لپاره د زرګونو انسانانو وینی هم تویوی  او دا وایی چی که مونږ د دین نوم اخلو او دخدای او پیغمبر نوم اخلو نو حکومت کول هم زمونږ حق دی او بل څوک د حکومت حق نلری. زه به د دی خبری په غبرګون کی یوازی د قرآن عظیم الشان یو مبارک آیت دلته رانقل کړم چی خدای (ج) فرمایی :

**(( و من الناس من یوجبک قوله فی الحیاة الدنیا و یشهداله علی ما فی قلبه وهو علی الدوالخصام و اذا تولا افساد فی الارض لیفسد فیها و یهلک الحرص و النسل والله لایحب الفساد))**

ترجمه :
ځینی خلک داسی دی چی ډیری ښی خبری کوی او چی خبری کوی پر خدای هم قسم خوری « لکه په کعبه شریفه کی چی قسمونه وخوړل شول اوبیا مات شول» او د خپل نیک نیت نه هم تاسی ډاډمن کوی اما هغوی ستاسی دښمنان دی او چی کله واک ته یی لاس ورسیږی فساد کوی (او په کومو ډولونو فساد کوی؟) کښت زارونه له منځه وړی «لکه په شمالی کی چی کښتزارونه له منځه یوړل شول» (والنسل) او نسل یعنی انسانان له منځه وړی، خدای (ج) فساد نه خوښوی.
دا مبارک آیت لکه چی خاص د افغانستان د حالاتو په هکله ویل شوی وی او یوازی د افغانی تنظیمونو او جنګی ډلو نومونه پکی نه دی مشخص شوی.

اوس راځو دی خبری ته چی هم د دینی پلوه او هم د منطق له پلوه هیڅ یوه ډله داحق نلری چی د حکومت کولو لپاره د زور ژبه استعمال کړی بلکه دا حق خلکو ته ورکړل شویدی چی وغواړی څوک دی پر دوی واکمنان وی. او دا حق باید خلک ولری چی څوک خپل مشر ټاکی او داحق هم باید ولری چی که مشر یی بی کفایته وی نو هغه له واکه لیری کړی چی دا حق په اساسی قانون کی د افغانستان خلکو ته ورکړل شویدی او هیڅ څوک نشی کولای د افغانستان ملت د دی حق څخه بی برخی کړی.

هوښیار ملتونه د داسی حقوقو دلاسته راوړلو لپاره خپلی وینی تویوی لکه دمخه می چی وویل په عربی هیوادونو لکه تونس، مصر، لیبیا او سوریه کی ښه امن وو اودخلکو ژوند هم د افغانستان د خلکو په پرتله ډیر ښه وو خو خلکو استبداد نور نشو زغملای او ومو لیدل چی مستبدین یو په بل پسی نسکور شول. د افغانستان خلک هم چی اوس دا حقوق که خپله یا د بهرنیو په مرسته تر لاسه کړیدی نه غواړی چی هغه له لاسه ورکړی او خپل ځان او خپل راتلونکی نسل د استبداد په لومو کی ښکیل کړی هغه استبداد که د دین په نوم وی یا په بل نوم.

پاتی شوه د بهرنیانون د شتون خبره چی هغه هم دینی موضوع نه بلکی سیاسی موضوع ده چی طالبان دخپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره هغی ته دینی رنګ ورکوی. په ننی عصر کی وینو چی هیوادونه د خپلو ملی ګټو د خوندی ساتلو لپاره د نورو هیوادونو سره ډول ډول اړیکی ټینګوی چی مثالونه یی په اسلامی او غیر اسلامی هیوادونو کی لیدلای شو. نو راځو دی خبری ته چی طالبان باید نور واقعیتونه درک کړی او که د سیاسی قدرت د لاس ته راوړلو هوس لری نو غوره لاره یی داده چی د افغانستان خلکو ته خپله واضح کړنلاره وړاندی کړی او د سیاسی فعالیت له لاری ځان هدف ته ورسوی نه د جګړی، افغان وژنی او ورانونی او سوځولو له لاری.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولــئ